عبدالسميع واحدي ٢٠٢٦/٠٩/٠٦

# د خاموشو انسانانو سياست

## (ځوارلسمه برخه)

....په تير پسي

١٣٨٠ هجري کال د سنبلي د مياشتي ١٨ نيته وه، مونږ په تدريسي کي د استاد لکچر ته ناست وو، له بهر فضا څخه د دوامداره او پراګنده ډزو غږونه مو واوريده، محصلين له ځايه وخوځيدل او وارخطايي رامنځته شوه، زمونږ د ګروپ درسي ساعت اصلاحات کشاورزي مضمون وو او داکتر محمد قاسم صديقي لکچر راکوه، داکتر صيب محصلينو ته وويلي: ارام باشيد چيزي نيست( ارامه واوسی څه شي نشته) درس ته يي دوام ورکړ، د ساعت په ختميدو او د وقفي په وخت کي بهر راووتلو ډزي کمي شوي وي، يو له بله مو پوښتنه وکړه خو څوک نه پوهيدل چي څه خبره يا موضوع څه وه، ماسپيښين چي يوه بجه ليليي ته ولاړو ما غوښتل د طعام خاني ډوډی واخلم چي دهليز کي محصلينو ترمنځ دا خبره ګنکوسه وه چي احمد شاه مسعود ترور شوو، طالب پلوه محصلين خوشحاله او طالب ضد خاص د شمالي سيمي اړوند محصلين  خفه وو خو اظهارولی نشوه، مخکني هوايي ډزي هم په همدي خوشحالی وي چی طالبانو نظامي کسانو کړي وي، زما لاس کي بشقاب وو چي يو مقدار وريجي او دال پکي وو سره اطاق ته ننوتم، د اطاق ملګري خبر شوي وو، مونږ په اطاق کي ازادي خبري کولي او د يو له بله مو څّه نه پټول، څلور کلن يو ځای اوسيدو له امله اوس نو زمونږ ترمنځ د  باور فضا جوړه شوي وه، انجنير خوشحال شګيوال وويلي: که دا کار شوي وی دا يو بد خبر دی، مسعود جهادي وو خو تر طالب يو څه اصلاح شوی او منځ لاري جهادي وو، که  د طالب پسي يو کورنی فشار نه وي موجود، په مونږ او تاسي به سر چپه نخري وکړي، ځينی نور ملګری يا بي تفاوته وو يا هم خفه وو خو اظهار يی نه کوه. زما نظر دا وو چي جهاديان ټول يو ډول انګيزه لري( سياسي واک ته د رسيدو دپاره د دين نه وسيله جوړول، د نظامي قوي استعمال او جګړه)  قدرت  ته د رسيدو دپاره په جنګ باور، دا اوسني پيښه ددوي خپل منځي کشمکش دی، بنا هغه وخت زه دي هکله بي تفاوته ووم او ماته د دا ډول قمندانانو مرګ يا ژوند په اړه بحث ډير اهميت نه درلوده. مګر ددي دپاره چي پوه شو د نومومړي مرګ د افغانستان په سياسي برخليک څه ډول اثرات پريږدي ،مونږ ټول ملګري او اکثر محصيلين ماښام بي بي سي يا امريکا غږ راډيو ته په تمه ووځکه هغه وخت د خبر رسوني کومه بله وسيله يا رسنی نه وه، يوه شپه بله شپه ماخستن وخت کي به مو له همدي راديوګانو خبرونه اوريده او بس.

د بی بي سي ماښامني خبرونو کي د مسعود د ټپي کيدلو وويل شو خو د مرګ خبر يي احتمالي وو او رسنيو د کومي باوري مرجع له ادرسه تايد نه کړ، مګر په بله شپه بيا د سنبلي په ١٩ نيټه د نوموړي د مرګ خبر تاپيد او رسمي اعلان شو. تحليلګران او د نظر خاونداان هم د همدغو راډيوګانو د لاري بيلابيلي تبصري وکړي.

تر دي پيښي دوه ورځي وروسته ماښآم وخت کي زه، انجنير خوشحال شګيوال او انجنير ميرويس سنجر د عادت سره سم د پوهنتون له صحن بهر راووتلو او باغ بالا په طرف مو په قدم وهلو پيل وکړ، مونږ پلان دا وو چي شپی ته به يو څه سودا هم اطاق ته راوړو او يو څه قدم به هم ووهو،  خوشحال شګيوال معمولا مونږ سره ماښام بهر نه راوته خو زه او ميرويس به هر وخت راوتلو مګر په دي ورځ نوموړي هم راووتله، کله چي د پولي تخنيک د فاميليو دروزاي مخته ورسيدو چي هلته دکانونه هم وو، انجنير هري يما مو وليده چي کور يي کارته مامورين کي دی، انجينر خوشحال وويلي:


لطفاً مقالات خود را به این آدرس ارسال بدارید | مهرباني وکړئ خپلې مقالې دې آدرس ته ولیږئ: info@arianafghanistan.com

هغه دي يما هم راوتلی ځئ چي څنګ ته يي ورشو.

مونږ چي کله سره نږدي شولو تر ستړي مشي وروسته يما مخاطب کړلو او وويلي:

يما: خبر شوئ؟

زه: نه، له څه شي ؟

يما: د امريکا نړيوال تجارتي مرکز يي والوځوه.

زه: چا او څه وخت؟ ته څنګه خبر شوي؟

په بی تفاوت انداز انجنير خوشحال: امريکايانو ته به اوس پته لګيدلی وي چي د جهاد ملاتړ او جهادي ډلو ساتل او پالل يعني څه.

يما: ۵۰۰۰ نفره امريکايان يي وژلی يوه فاجعه رامنځته شوی.

مونږ يو دکان ته ځآن ورسوه چي دکاندار راديو چالان کړی وو او ورته غوږ وو، راډيو کي د پيښي مسوليت د القاعده په سازمان چي افغانستان کي پټنځايونه وو واچول شوه چي وروسته بيا اسامه بن لادن د يوي ويډيو پيغام دلاري د پيښي مسوليت هم ومانه، او هلته د ۳۰۰۰ امريکايانو د وژل کيدو اخبار نشر شو، مونږ تر يو څه وخت ناستي وروسته او د خبر تر اوريدو لږه شيبه پس، ليليي خواته روان شولو او د انجينر خوشحال په ټينګار انجنير يما هم مونږ سره اطاق ته راغئ او يما ته وويلی شوه چي له ډوډی خوړلو بعد استراحت دپاره به بيرته کورته لاړ شي.

د احمد شاه مسعود ترور او د امريکي په نړيوال سوداګريز مرکزونو بريد د محصلينو ترمنځ هم د شخصي اوهم رسمی مجلسونو موضوعات ګرځيدلي وو، طالب او ددوي لمړي درجه پلويان چي تر دي يو ورځ مخکي د مسعود په مرګ له خوشحالی په جامو نه ځآييدل اوس نو هيلي مړاوي ځکه ښکاريدي چي هغه وخت له پيښي څو لحظي وروسته سمدستي د امريکا د وخت ولسمشر جورج بوش د طالبانو سره د جنګ او په امارت د مخامخ بريد اخطاريه يي صادره کړه.

اوس نو د پولي تخنيک اداري مسولين چي اکثريت يي طالبان وو، ادبيات تغير او نرم شوي وو، دوي به په ډير عاجزي د مسلمانانو تر منځ اتفاق، اتحاد او تير وخت کي د مسلمانان او عيسويانو ترمنځ مذهبي جنګونو ته يی اشاري کولي، ليليه کي هم تشدد او سخت ګيري کمه شوه. او د محصلينو ګيره او لونګي تري د ياده ووته، ځيني طالبان چي محصلينو منځ کي وو، يوي خوا به صليبي جګړو تاريخي کيسي شروع کړي بله خوا بيا د پښتون او غير پښتون موضوع ته يي لمن وهله، دوي به ويل که شمال ټلواله بيا ځلي واک ونيسي کابل کي به دپښتنو د وينو سيلاب جوړ کړي. دې وخت دوي خپله په يو داخلي وجودي تضاد او بن بست کي ګير وو، يو خوا د امت نظريه چي هيڅ ډول مرز؛ قوم او ټبر نه پيژني بله خوا د قومي فاشيزم او قومي تعصباتو ته لمن وهل او دا سوال مطرح کول چي پښتانه به څنګه شي؟

ملت له طالبه کومه ښه خاطره نلرله د دوي د ټيټ پوړو افرادو بد اخلاقي، بي سوادي او مليشه يي سيستم، د لوړ پوړو کسانو جرمي اقتصاد، استبداد او ددوی د مشر يعني ملا عمر مطلقه ديکتاتورانه حاکميت خلک پوزي ته راوستلي وو، طالب چاروکي د ملت له ماليات، عشر، زکاته چي د معاش، امتيازي، دسترخوان خرڅ، د باډيګارد جيب خرڅ، د موټر روغنياتو په نامه جيب ته وهلي، يا انجوګانو له طريقه چي اکثر به د دوي يا ددوي د لمړي درجه خپلوانو پوري مربوط وو بهرنی مرستي اخيستلي، جرمي اقتصاد ( ترياک يا آفين، قيمتي ډبري، وسلو قاچاق) دلاري ميليونران شوي وو، ولس ته به يی ويل فقر د خداي له خوا دی، اعمال مو سم نه دي ځکه غريب ياستئ! په مقابل کي ملت ولوږه وهلي ، مهاجر ، بي کاره او لالهانده شوی وو. د ديني مدارسو احساساتي زلمکي او د طالبانو د صف ټيټ پوړي جنګيالي يواځي د قرباني پسونه وو، طالب جګپوړي چارواکي پوهيدل چي نور يي د اختتام وخت نږدي دی. دي شپيو ورځو کي د ليليي د بلاکونو مخته به د طالب نظاميانو د ډاتسن پيک آپ موټري ۲٤ ساعته شکل او دوامداره چالان پريښودل کيده، تر څو د تيښتي وخت کي ستونځه جوړه نکړي، طالبان به اطاقونو کي ويده وول خو بهر پارکينګ کي به يي موټر چالان



لطفاً مقالات خود را به این آدرس ارسال بدارید | مهرباني وکړئ خپلی مقالي دي آدرس ته ولیږئ: info@arianafghanistan.com

پریښوده. مونږ دپاره د دوي د تیښتي د آمادګی همدا واضحه نښه وه، اکثر محصلین به ویل: طالب نور د ټینګی نه دي ژر به د تاریخ برخه وګرځي.

په بل طرف افغان سیاسي او دطالب ضد جریانونه په دوه لویو جهتونو ویشل شوي وو، یو جهادي پخواني تنظیمونه چې په ټولو کي مطرح او قوي جریان د برهان الدین رباني په مشرتوب جمیعت اسلامي تنظیم، اتحاد اسلامي د سیاف په مشری، جنبش ملي اسلامي د دوستم په رهبري او حزب وحدت د شیعه ډلو په استازیتوب، ګلبدالدین پلویان په دوه برخو ویشل شوي وو یوه ډله یي د جمیعت سره ایتلاف کي شامل وو بله ډله یي بیا د حکمتیار په مشري بیاهم مخالف صف کي ودریدل، د مجددي او ګیلاني پیرانو پوري اړوند دوه جهادي خو معتدلي ډلي هم فعالي شوي.

بل جهت کي افغان تکنوکراتان او روشن فکران چي په دوی کي بیا د پخواني پادشاه ظاهر شاه پلویان مطرحه ډله وه دي ټولو جهتونو کي ساه چلیدلی وه، روشنفکران او افغان طرفونو په داخل او خارج کي په انسجام بوخت وو، د مسعود نه بعد مشرقي خلکو منځ کي د قمندان عبدالحق په مشري د نوي حکومت د جوړیدو د خلکو د خبرو سرمشق وو، مګر څه وخت وروسته د امریکي د نظامي بریدونو پیل سره سم، افغانستان ته په داخلیدو قمندان عبدالحق د طالبانو په لاس ووژل شو اوس نو مونږ د نوموړي نه بعد د حامد کرزي نوم له میډیا او خلکو نه اوریده.

ساختماني پوهنځي کي د ثقافت اسلامي د مضامینو استادان نور درسونو ته منظم نه حاضریدل. ملا فاضل د پوهنتون رییس هم غیر حاضري شروع کړه او که راتله هم په نامنظمو اوقاتو کي لنډ وخت دپاره به یي یو څل پولي تخنیک ته سر ورښکاره کوه.

د ۲۰۰۱ زږدیز د اکتوبر په ۷ تاریخ په افغانستان باندي امریکایي هواي او ځمکني تهاجم پیل شو، لمړني اور غورځونکي بمونه کابل هوایي ډګر، دفاع وزارت، داخلي وزارت او قول اردو باندي وتوغول شول، د لمړني بم د غورځیدو سره سم چي غږ یي تر لیري ساحو پوري واوریدل شو زه او زما د اطاق ملګري انجنیر میرویس سنجر، انجنیر جلیل چي په دې شپه اطاق کي پاتي وو بالکن ته ووتلو، د نورو اطاقونو ځیني ملګري محصلین هم زمونږ اطاق ته راټول شول او په خپل منځي مجلس بوخت شولو.

ما د ملګرو منځ کي وویل:

دا د یوي بلي خو اوږدي جګړي پیل دی.

د لیلیي معلم مونږ ته خبر راکړ چي تر امر ثاني پوري د لیلیي اعاشه او اباته بندیږي تاسي باید لیلیه پریږدی ځکه دا ځاي خوندي نه دی.

د امریکایي ډرون او بي ۵۲ الوتکو دمزاحمت دپاره طالبانو د دافع هوا ډزی کولي خو دا کار ډیر موثر نه تمامیده. به سبا ورځ مونږ ټول هم صنفیان تصمیم ونیو چي باید د لیلیی د اطاق تسلیمي ورکړو، مونږ د غیر حاضر ملګرو البسي هم وسپارلي، د تسلیمي نه بعد تر نورو ملګرو زه مخکي راووتلم، انجنیر میرویس سنجر او انجنیر عبدالجلیل ما سره تر کارته مامورین څلور لاري پوري راغلل، مونږ یو بل سره خداي په آماني وکړه او د بیا لیدو هیله مو څرګنده کړه کله چي زه ټکسي ته پورته شوم ملګری مي بیرته وګرځیدل.

زه پل محمود خان د سیمي چي هغه وخت جلال آباد هډه همدلته وه، موټر ته وختلم او د جلال آباد په طرف مو حرکت وکړ، وریښمن تنکي کي بیا ځلي د چمن قلم هوټل ته برابر شولو، دا ځلي ما د هوټل د مدیر سره ښه په ورین تندي او موسکا ستړي مشي وکړه، ورته مي وویلي پنجابیان بیرته راګرځیدلي که هماغسي ورک شول؟ هغه ماته په خندا وویلي: ته نه سمیږي. ادامه یي ورکړه دلته بیا نه دي ودریدلي کیداي شي تللی واوسي.

مازدیګر او ماښام ترمنځ وخت کي زه جلال آباد ښار مخابراتو چوک ته ورسیدم او مستقیم د کاکا کار ځای ته ورغلم، تر روغبړ وروسته مي تري د ښآر د وضیعت پوښتنه وکړه.


لطفاً مقالات خود را به این آدرس ارسال بدارید | مهرباني وکړئ خپلې مقالي دې آدرس ته ولیږئ: info@arianafghanistan.com

کاکا وویلي:

کوم خلک چي امکانات لری له ښاره ووتل، زیادتره شتمن پیښور خواته کډه شول، مطابقي یو شمیر خلک ولسوالیو ته او د کنر او لغمان خلک چي دلته میشت وول خپلو ولایتونو او کلو ته کډه شوي.

زه: مونږ څه کوو ستاسي پلان څه ده؟

کاکا:

دادا سره غږیدلی یم سرخرود ته کډه کوو چي وضیعت ښه شو بیرته راګرځو ښآر ته.

ته هم کمک شه چي کالي بار کړو سبا موټر راځي کور کي واوسه!

ما شپه کور کي تیره او په سبا کډه مو سرخرود ته انتقال کړه، د ژمي د موسم یخني هم ستونځه جوړه کړي وه،سرخرود کي زمونږ د اوسیدو دپاره یوه کوټه وه چی مشر تره مو راته خالي کړي وه، او مونږ ټول ۱۰ کسی فامیل سره د ټول اسباب او وسایلو باید یو څه وخت دلته تیر کړی وای. دي شپو کي تر یوي هفتي تیرولو وروسته زه په تنګ شولم، جګړه بي برخلیکه او دوامداره غوندی راته معلومه شوه، ما کاکا ته وویلي: زه خپل د دوا کار ته دوام ورکوم، تا سره زما د دوا کومي پیسي شته هغه ماته آماده کړه د بازار نه هم خپلی پیسي ټولوم په یو شمیر درملتونو زما پیسي وي، ما همدا کار وکړ او دغه وقفه کي ما خپل تګ راتګ کابل ته ونه دروه، دوا پلورنکي او عمده فروشان اکثر افغانستان نه بهر وتلي وو، ځکه نو یو لږ شمیر خلکو کار ته ادامه ورکوله، خو دا چي وایي هر چالش یو فرصت دی دلته ما باندي همدا خبره صدق کوه، د نورو ګوښه ګیري او مهاجر کیدل زما دپاره فرصت وو، په دي ډول چي تر مخکي وخت زما دوا په ښه بیه او کم وخت کي خرڅیده دا ځکه چي د خلکو ضروریات زیاد او خدماتو ارایه کم شوي وو.

امریکایان د پرمختللو وسلو په مټ د طالبانو تر کنترول لاندي سیمي او نظامي اهداف دقیق په نښه کولي په همدي اساس تر دا وخته افغانستان کي د ملکي تلفاتو شمیر حد اقل کي وو له همدي وجه زه ډاډه ګرځیدلم یواځي نظامي تاسیساتو ته نه نږدی کیدلم.

زه خپل هیواد کي د بهرنیو ځواکونو د نظامي شتون سره جوړ نه یم، کله کله ورسره حساس شم، دا حساسیت زما په وجود فکر او دماغ کی څنګه راجوړ دی تر ننه ما ورته کوم خواب نه دی موندلی کیدای شي د کورنی د مشرانو تر فکر یا تاثیر لاندي راغلی یم یا په طبعي شکل زما وجود کي شته یا نور خو تر اوسه مي ورته سم ځواب نه دی موندلی، ماشومتوب کي به کله چي مي مور یا نیا راته وویلي:

مجاهدین په جلال آباد راکټ ځکه توغوي چي دلته روسان راغلي وو، زما به شوریانو ته ډیره غصه راتله او ځآن سره مي ویلي چي دا شورویان ولي راغلي وو او زمونږ وطن کي ولي جنګ جوړ کړی.

د برهان الدین رباني او ملا عمر دوره کي افغانستان کي د بهرنیو تندلارو وسله والو ډلو شتون زما حساسیت راپآروه او فکر مي کوه چي زمونږ هیواد کي ټولي ناخوالي د همدوي دلاسه جوړ دي.

۲۰۰۱ نومبر میاشت کي کله چي مي واوریده نړیوال ایتلاف کي شامل بهرني ځواکونو عساکر په افغانستان کي پیاده شوي ما دپاره چندان خوندور خبر نه وو، سرخرود کي دادا او ترونو سره ناست وو امریکا غږ راډیو نه مي همدا خبرونه اوریده ددي خبر په اوریدو زه حساس شولم ما وویلي:

دا وطن به تاسي (امریکایانو) ته سور اور شي. مشر تره مي ماته متوجه وو او زما په څهره کي غصه لیده مخاطب یی کړم:

تر عرب او پاکستاني بي بندو باره، تندلاري او ناقانونه وسله والو د نړیوال ایتلاف ځواکونو قانوني شتون ښه دی افغانستان به د یو رسمي دولت څښتن شي. ته په روان حالت راضي وي؟


لطفاً مقالات خود را به این آدرس ارسال بدارید | مهرباني وکړئ خپلې مقالې دې آدرس ته ولیږئ: info@arianafghanistan.com

زه:

نه، هيڅکله راضی نه يم اوسنی وضيعت هيڅ روغ انسان ته د منلو نه ده، خو دا ټول ماته يو ډول اجنبيان ښکاري چې د خپلو مملکتونو جګړې زمونږ هيواد ته راوړي. د حکومت جوړول او د زعامت رامنځته کول د افغانانو کار دی دا کار بايد همدا ولس ترسره کړي.

تره مي په دي رابطه ماته ډيري اوږدي خبري وکړي او هڅه يي وکړه چي ما قانع کړي يا حد اقل زما حساسيت راکم کړي.

زه کله هم د بهرنی نړی سره د خپل هيواد په ولسي، ملي ګټو ولاړ د سالم، رغنده اړيکي درلودلو سره مخالف نه يم، او منيحث د يو هيوادپاله انسان غواړم چي ولس مو د نړی نورو هيوادونو سره پراخي تجارتي، اقتصادي، رغنده ديپلوماسي او واضح سياسي اړيکي ولري او سيال ملت واوسو. دا اړيکي بايد تعريف شوي او په ملی او نړيوالو نورمونو برابر او مطابقت کي واوسي، اوسني عصر کي دا يو شوق يا انتخاب نه، يوه حياتي ټولنيزه اړتيا ده او د نړی سره د اړيکو پريکون د ټولني په ټولو اقشارو بيا خاص متوسطه طبقه چي زه هم همدي قشرله جملي يم منفي تاثيرات غورځوي او زياد زيان همدغه متوسط قشر ته رسيږي. مګر چي کله وينم د افغانانو هيواد دنړيوالو لويو قدرتونو يا د سيمي او يا هم زمونږ د ګاونډيو ملکونو د نظامي او سياسي تقابل نقطه ګرځول شوي وي او دلته کله د نيابتي ډلو په مټ کله هم د دولتونو په کچه مستقيم اندوخړ جوړ شوی وي ما دپاره زوروونکي حالت همدا دی.

همدی وخت کي وو چي زما اکثر همزولي، د مکتب او پوهنتون ټولګيوال د بهرنيو ځواکونو سره همکاران شول او دي رابطه کي ځيني ملګري ماته هم بلنه راکړه چي که زه وغواړم مونږ (ملګري) درسره همکاری کولي شو مګر زه حاضر نشولم ملګرو ته مي حتما يوه بهانه کوله، کاکا (پلار) مي هم زما وضعيت ته په کتو زه يي نه تشويق کولم چي بايد بهرنی نظامی ادارو سره کار وکړم بلکه راته يي ويل لمړی پوهنتون بشپړ کړه.

د نړيوال ائيتلاف او د شمال د متحدي جبهي او طالبانو ترمنځ هوايي او ځمکني نښتي نږدي دري مياشتي دوام وکړ تر څو طالب جنګيالي کابل او سمت شمال کي وځپل شي، په دي دوران کي دا چي د پوهنتون دروازي تړلي وي زه په خپل شخصي تجارت بوخت ووم. ......نوربيا



برای مطالب دیگر عبدالسمیع واحدي روی عکس کلیک کنید



لطفاً مقالات خود را به این آدرس ارسال بدارید | مهرباني وکړئ خپلې مقالې دې آدرس ته ولیږئ: info@arianafghanistan.com